السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه باید په ټینګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبوروړلی نشي

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه باید په ټینګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبوروړلی نشي». او د مسلم روایت دی چې: «غوښتنه دې په ټینګه وکړي، او هیله (او امید) دې لوی وساتي، ځکه هېڅ شی الله تعالی ته په عظمت نه قائلېږي مګر دا چې هغه يې ورکوي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې منع فرمایلې ده چې دعا ته له څه شي سره تړاو ورکړل شي، که څه هم د "الله تعالی مشيئت وي؛ ځکه جوته ده چې الله پاک بخښنه نه کوي مګر چاته چې وغواړي، نو د مشيئت شرط ايښودل هېڅ معنا نه لري، ځکه دا شرط یواځې له هغه چا سره ایښودل کېږي چې له خوښې پرته پرې په مجبور سره يو کار تر سره کېږي يعنې هغه يې نه غواړي، حال دا چې الله تعالی له دې او هر ډول نیمګړتیاوو څخه پاک دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د حديث په پای کې جوته کړې ده چې هېڅوک الله تعالی مجبوروړلی نه شي، همدارنګه، الله ته د هېڅ شي کول سخت ندي، ځکه هغه ناتوان نه دی، چې ورته ووایو: "که غواړې چې فلانی شی راکړې نو رایې کړه. ځکه د مشيئت یادونه داسې ښکاري لکه د الله تعالی له بخښنې څخه ځان مړه خوا ښودل لکه چې اړتيا ورته نه وي، نو د ویونکي دا وينا چې وايي: که غواړې نو رایې کړه؛ هغه مهال کارول کېږي چې یا خو هغه کس نه بې نیازه يې، او یا خو هغه ناتوانه وي، خو څوک چې قادر وي او اړتيا ورته وي، نو هغه ته خپل حاجت لوی ښودل کېږي او د يو بې وزله انسان په توګه ترې سوال کېږي، او هغه ته پناه وړي، ځکه هغه غني (بې نیازه)، کامل، او پر هر څه قادر ذات دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5978

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee